**د افغانستان اسلامي جمهوريت**
**د مالیې وزارت**
**د عامه اړیکو ریاست**

# خبر پاڼه

## د مالیې وزیر د ترکمنستان له چارواکو سره د اقتصادي چارو په اړه خبرې وکړې

26 جدي 1394:

د افغانستان د مالیې وزیر ښاغلی اکلیل حکیمي د سلواغي په ۲۵ مه د یو لوړ پوړي دولتي پلاوي په مشرۍ د ترکمنستان پلازمینې عشق آباد ته سفر وکړي.

یاد پلاوی د ترکمنستان له چارواکو سره هغه ټرونونه تعقیب کړل چې افغان ولسمشر ترکمنستان ته د سفر پر مهال د هغه هیواد له چارواکو سره لاسلیک کړي ؤ. همدا راز یې د ترکمنستان له چارواکو سره د ۲۱ پراختیایي پروژو په اړه چې د هغه هیواد د وړیا مرستو له لارې یې تمویل کیږي، د کارونو د پرمختګ، د دواړو هیوادونو ترمنځ د پنځمې اقتصادي ناستې د پریکړو په برخه کې د پرمختګونو، د ریل پټلۍ د جوړیدو پر کړنلارې او د نفتو او ګازو د خریداریۍ په شان پر مهمو مسایلو بحث او خبرې وکړې.

د مالیې وزیر په مشرۍ یاد پلاوی د تیلو او ګازو په برخه کې د ترکمنستان ولسمشر د مرستیال ښاغلي بخشي ګلدي کاکایوف، د ریل پټلۍ او ترانسپورت په چارو کې د وزیرانو شورا له مرستیال ښاغلي ستلیقوف او د ترکمنستان د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي رشید مردوف سره هم لیدنې وکړې.

دواړو لوریو د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ګډو اقتصادي همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې د عملي اقداماتو غوښتنه وکړه.

د مالیې له وزیر سره په دغه یو ورځنې سفر کې په اقتصادي او مالي چارو کې د ولسمشر سلاکارانو او د بهرنیو او ټولګټو وزارتونو استازو هم ملګرتیا کوله.
د یادونې وړ ده چې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو د ګډ کمیسیون پنځمه ناسته د روان کال د لړم د میاشتې په ۱۵ مه په عشق آباد کې جوړه شوې وه او تمه ده چې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ګډو اقتصادي همکاریو شپږمه ناسته په نژدې راتلونکي کې په کابل کې جوړه شي.

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**
اجمل حمید عبدالرحیمزی د مالیې وزارت ویاند او د عامه اړیکو رئیس
د اړیکو شمیرې: 0729994111 0202103620
بریښنالیک:mediaoffice.mof@gmail.com ویب پاڼه:www.mof.gov.af فیسبوک: وزارت مالیه/www.facebook.com